مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر
۲۰۲/۱۱/۲۴

# د تعلیم کار او بیان د حق نه محرومو ښځو ته!

ته مه مړاوي کیږه!
ته وغوړیږه!
لکه د بهار گل،
ته وځلیږه
لکه د روڼي چیني اوبه،
ته ماته کړه دا د غم تیاره خونه او راووځه مخ په لور د رڼایي ،
او د خپلو همزولو او همجنسانو په سینه کي هم د معرفت نور وځلوه،
لږ د هوسونو او ارمانونو سا کش کړه،
او د آزادی په لید لو، لږ خپل روح او روان تازه کړه،
او دي مړاوو زړونه روښنایی وبخښه
تر څو به په تا د تیاره ذهنیتونو خاوندان حکو مت کوي،
لږ ځان وښوروه، په تاکي هر څه شته مه ناهیلي کیږه،
ډیر فرصتونه ستا په انتظار دي،
خپل گامونه ډیر چټک کړه،
ځکه زمان درنه تیریږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ